دویمه کچه

# د یو کار کولو نه مخکې فکر وکړئ



**لیکوال:** شیوا هاري ادیکاري
**انځورګر:** راجو بابو شاکیا
**ژباړن:** روز لارسېن

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ځيرک يو ښکلی باغ درلوده. د هغه په باغ کې ګڼ شمېر ډول ډول ګلونه غوړېدلي وو.

کله به چې هغه خپل باغ او ګلونو ته کتل، هغه به اکثره وخت خوښي احساسوله.



یو کال، هیڅ باران و نه شو.

ګلونه په توده هوا کې په مړاوي کېدو او وچېدو شول.



د ځيرک يو ملګری و چې نوم يې ملنګ و. هغه د ملنګ ملاقات ته ورغلو او پوښتنه يې وکړه، ”ملګريه، سږنۍ وچکالۍ زما په باغ کې ټول ګلونه وچ کړي دي. آيا تا ته داسې ګلونه معلوم دي چې نه مړاوې کيږي، نه وچيږي؟“



”امممم، کاغذي او پلاستيکي ګلونه نه مړاوې کېږي، نه وچېږي. که باران وشي، کاغذي ګلونه زيانمن کېږي، خو پلاستيکي ګلونو باندې هيڅ نه کېږي،“ ملنګ وويل.



ځیرک کور ته ستون شو او ټول ګلونه یې له بېخه وویستل.

هغه پلاستیکي ګلونه راوړل او په خپل باغ کې یې وکرل.




یو ماښام، کله چې هغه په برنډه کې ولاړ خپل باغ ته یې کتل، په هغه باندې باد ولګېد.

د ګلونو د خوشبويۍ پر ځای، د هغه په پوزه د کناراب بدبويي ولګېده.



بله ورځ هغه د ملنګ کور ته ورغلو. ”زما ملګريه، باغ ښکلی دی، خو هيڅ د ګلونو خوشبويي نه لري. هوا کې د کناراب مردار بويونه الوځي. زه بايد څه وکړم؟“

”په ګلونو باندې خوشبويي وشينده،“ ملنګ مشوره ورکړه.



ځیرک په پلاستیکي ګلونو
باندې خوشبویي وشیندله.



خو، هغه لا هم د کناراب مردار بوی احساسولو. هغه بیا ځلي ملنګ پسې ورغلو. ”زما ملګریه، زما باغ کې اوس هم د کناراب بوی دی.“

”ځیرکه، دا هوا ده چې ګېر چاپېره خوشبويي خپروي. خپل باغ ته څېرمه یو پکی کېږده. بیا به ته یوازې د ګلونو خوشبويي حس کوې،“ ملنګ وویل.



ځیرک په باغ کې پکې بږدي چې خوشبويي خپره کړي.




اوس هغه له خپل باغ څخه خوشبويي استشمام کولای شوه.

خو، هغه په پتنګانو او د شاتو مچيو او مارغانو پسې خفه و چې هره ورځ به د هغه باغ ته راتلل.



ملنګ هغه ته مشوره ورکړه چې د لوبو مارغان، د شاتو مچۍ، او پتنګان واخلي. ځیرک د لوبو سامان وپېره او په خپل باغ کې یې په الوځولو پیل کړل.
ژر، د هغه ملګري او ګاونډیان هم هغه سره یوځای شول.




خو ډېر ژر ټکرونه منځته راتګ پیل شول. لوبتکي به له یو بل سره جنګېدلي او په ځمکه به لوېدلي. دا د خلکو د ناراضه کېدو سبب شو.
هغوی به ټوله ورځ مشاجرې او جګړې کولې.



ځیرک، ملنګ ته شکایت وکړ، ”د لوبو اسباب یو مصیبت دی! دوی جنګیږي او ماتې کیږي او خلک له یو بل سره مشاجرې او جګړې کولو باندې لاس پورې کوي.“

”اوه ګرانه، جګړه کول ډېر بد کار دی. که خلک جګړه کوي، مونږ باید هغوی ته ووایو چې جګړه و نه کړي. خو که هغوی نه کراریږي، مونږ باید هغوی ته سزا ورکړو.“ ملنګ وویل.




ځیرک په غوسه کې ووېل، ""همدا ته یې د دې
ټولې خرابۍ مسئوول! "

"ما خپل باغ ویجاړ کړ، دومره ډېرې پیسې مې ولګولې
او هر څه مې مصنوعي جوړ کړل. ګلونه، خوشبویي،
هوا، پتنګان، د شاتو مچۍ، مارغان – هر څه! **ته**
باید سزا ووینې."




ملنګ په ارامه لهجه وویل، ”زما ملګریه، مونږ باید د نورو خلکو مشورې ته غوږ ونیسو. خو، مونږ باید یوازې وروسته له هغې عمل وکړو کله چې مونږ یې په اړه په خپله ښه فکر کړی وي. که یو څوک تا ته ووایي چې یوه سپي ستا غوږونه وړي دي، آیا ته به په سپي پسې منډې وهې که اول به په دقت سره فکر کوې؟“




د ملنګ په خبرو ځیرک په خپله تېروتنه پوه شو. ”دا طبیعي خبره ده چې د موسمونو په بدلېدو سره ګلونه غوړېږي هم او مړاوې کېږي هم. ما باید د طبیعت د قوانینو ضد عمل نه وی کړی،“ هغه فکر وکړ.



ملنګ خپل ملګری په فکرونو کې ژور تللی ولید. هغه ترې پوښتنه وکړه، ”زما ملګریه، آیا ته نورو مشورو ته اړتیا لرې؟“

ځیرک وخندل، ”نه، نه، زه پوهېږم چې اوس باید زه څه وکړم؟“



بله ورځ، ځیرک ټول پلاستیکي ګلونه له بېخه وویستل او لېرې یې وغورځول. هغه پکې بېرته په خپل کور کې کېښودل. له یوه رمبي ځخه په ګټه اخیستلو سره، هغه اصلي ګلونه په خپل باغ کې وکرل.



هغه په زغم سره هر ګل ته اوبه ورکولې او په احتیاط سره یې ښارل.



يو څو اونۍ وروسته، د هغه باغ يو ځل بيا په اصلي ګلونو سره وغوړېد. مارغانو، د شاتو مچيو او پتنګانو بيا راتګ پيل کړ. ځيرک د خپل باغ په بېرته راژوندي کېدو زښت ډېر خوښ و او له طبيعت څخه د دې ارزښتناکه ډالۍ لپاره منندوی و.



ملنګ د ډېر وخت راهیسې خپل ملګری نه و لیدلی، نو هغه د خپل ملګري لیدلو ته ورغلو. ځیرک هغه په خپل باغ وګرځولو. هغه مسکی شو او د ښایسته، خوشبویه ګلونو ترمنځ له خپل ملګري سره غاړه غوړې شو.

## لارښودونکي پوښتنې

1. د ځیرک باغ باندې نظر واچوئ. آیا ستاسې خوښیږي؟ باغ څه ځانګړنه لري؟ خپل ځان هلته تصور کړئ، تاسې څه محسوسوئ؟
2. آیا تاسې ته د نیالګیو او ګلونو د ژوندانه دوره معلومه ده؟ آیا تاسې کولای شئ دا د ۴ موسمونو په ترڅ کې رسم کړئ؟
3. ولې مونږ باید د عمل کولو نه وړاندې فکر وکړو؟ آیا اړینه ده چې فکر وکړل شي یا مونږ باید په بشپړه توګه د نورو په نظرونو باور ولرو؟
4. آیا ملنګ هوښیار دی؟ ولې؟ آیا د ځیرک د ستونزې لپاره د هغه حل لاره ښه ده؟
5. که ته ملنګ وای، تا به ځیرک ته څه مشوره ورکړې وه؟